دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

# شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

شهادت شپږم کال، ۴۳ مه ګڼه، پرله پسې ۲۸۷ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د سلواغې ۷ مه د ۱۴۳۲ هـ ق د ربیع الثانی ۲ مه د۲۰۱۵ م د جنوري ۲۷ مه

### درس قرآن

او زمونږ په پیدایښت کې داسې امت هم شته چې د حق په لور ښوونه کوي او تل د حق په تله پرېکړې کوي او کومو کسانو چې زمونږ آیتونه درواغ ګڼلي مونږ به يې پوړۍ په پوړۍ داسې ونیسو چې هغوی به پوه هم نه شي. اوس هغوی ته وخت ورکوم. زما تدبیر خورا پیاوړی دی. (سورة اعراف : ۱۸۱ - ۱۸۳)

### درس حدیث

از انس رضی الله عنه روایت است که:
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: کسی که دوست بدارد اینکه روزی اش فراخ گردیده و عمرش طولانی گردد، باید صلهء رحمش (پیوستگی با نزدیکان) را پیوسته بدارد. (متفق علیه)

## دجهاد د تلپاتې حماسې د مقدس ډګر د اتل اروانباد ډګر جنرال امان الله «خوړمن» ژوند لیک

((موږ دخدای یو او دخدای لور ته ورتلونکي یو)).
د پخواني روسي ښکېلاک په وړاندې د جهاد په ګرمو سنګرونو کې له ځلیدونکو ستورو څخه یو هم شهید ډګر جنرال امان الله «خوړمن» و، چې په خپلو اتلولیو سره يې د ښکېلاککرو خوله ماته او د مجاهدینو سرونه لوړ کړل، شهید ډګرجنرال امان الله «خوړمن» د میرعالم خان زوی په ۱۳۲۶ هجری لمریز کال کې د میدان وردګو ولایت په مرکز د میره کي خیلو په کلي کې د یوې دینداري کورنۍ په غېږ کې دې فاني نړۍ ته سترګې پرانیستې، په ۱۳۳۲ هجری لمریز کال د سلمان فارس په لیسې کې چې هغه وخت د میدان د لیسې په نوم یادیده شامل شو، او تر ۱۳۳۸هجری لمریز کال يې خپلې لومړنۍ زده کړې په همدغې لیسې کې تر سره کړې، په ۱۳۳۸ ل کال په حربي ښوونځي کې شامل او په ۱۳۴۴ ل ترې فارغ شو، د حربي ښوونځي تر فراغت وروسته په حربي پوهنتون کې شامل شو، او په ۱۳۴۹ ل کې له نوموړي پوهنتون څخه په پیاده مسلک کې د مهماتو له څانګې په بریالیتوب سره فارغ شو، او د لیسانس سند يې تر لاسه کړ، د اسلامي نهضت له سپېڅلي کاروان سره په همدغه کال (۱۳۴۹ ل) کې ملګری شو، او د مبارزې لار يې غوره کړه، له کال ۱۳۵۰ ل تر ۱۳۵۳ ل پورې د ریشخور په فرقه کې د مهماتو د ټولي قومندان و، او له ۱۳۵۳ ل تر ۱۳۵۷ ل کال پورې د ننګرهار په یوولسمه فرقه کې د مهماتو د ټولي قومندان پاتې شو، په همدغه کال د مسکو د ذلیلو ګوډاګیانو له خوا بندي شو، او له یوه کال او څو میاشتو بند وروسته په کال ۱۳۵۸ ل کې له زندانه آزاد او خپله برحقه مبارزه يې یو ځل بیا د اسلامي حکومت دقائمیدو او ...

(۳ مخ)

## پیام تسلیت حزب اسلامی افغانستان

جلالتمآب خادم الحرمین الشریفین ملک سلمان بن عبدالعزیز آل سعود!
در پناه حفظ الهی باشید و بعد:
با تأسف و تألم فراوان خبر وفات خادم الحرمین الشریفین، ملک عبدالله بن عبدالعزیز آل سعود (رح) را دریافت کردیم. یقیناً که مرحوم ملک عبدالله شخصیت مدبر، رهبر شجاع، ایثارگر مصلح و مدافع جدی حقوق مسلمانان در تمام نقاط جهان بود، تاریخ گواه است که آن مرحوم دوست صمیمی ملت افغان بود و این دوستی درهنگام هجوم واشغال قشون سرخ اتحاد شوروی سابق به افغانستان، کاملاً هویدا گردید. همکاری های مستمر مرحوم ملک عبدالله با مجاهدین و مهاجرین افغان در دورهٔ جهاد بالخصوص دستگیری ایشان از ایتام، بیوه زنان و مردم مستضعف افغانستان، برهمگان ثابت است.
حزب اسلامی افغانستان، درگذشت دردناک خادم الحرمین الشریفین مرحوم ملک عبدالله بن عبدالعزیز را، به خانوادهٔ سلطنتی و ملت مسلمان عربستان سعودی تسلیت عرض نموده و از خداوند بزرگ برای ملت سعودی صبر و استقامت و برای آن مرحوم مغفرت الهی را مسئلت می نماید.
آرزومندیم که جلالتمآب شما که جانشین مرحوم ملک عبدالله بن عبدالعزیز برگزیده شده اید، در امور محوله موفق و مؤید بوده، کامیابی تانرا در جهت خدمت به اسلام و مسلمین خواهانیم.
عبدالهادی ارغندیوال
رئیس حزب اسلامی افغانستان

## د مرحوم ډګر جنرال امان الله خوړمن د مړینې له لامله د حزب اسلامی افغانستان د تسلیت او خواخوږۍ پیغام

د شوروی د متجاوزو لښکرو او دکابل د کمونستي حکومت پر وړاندې دجهاد دمقدس ډګر اتل سپهسالار ډګر جنرال امان الله «خوړمن» له دې فاني نړۍ نه سترګې پټې کړې،
((موږدخدای یواودهغه پرلورموورګرځیدل دي)).
مرحوم ډګرجنرال امان الله خوړمن چې د افغانستان د اسلامی نهضت او حزب اسلامي افغانستان له مخکښو او ځلاندو څېرونه و، زموږ دمقدس جهاد په تاریخ جوړوونکې حماسه کې ځانګړی ځای درلود چې نه یواځې د میدان وردګ ولایت او حزب اسلامي مجاهدین دهغه دمیړانو، شهامتونو او ابتکاراتو شاهدان دي؛ بلکې په ټول هېواد کې دیوه سترګور، زړور او سرښندوی مجاهد قوماندان په توګه یوه پېژندل شوې څېره وه.
د حزب اسلامی افغانستان قیادت او اجرائیه شورا د مرحوم د مړینې له لامله ژوره خواشیني څرګندوي، د هغه مړینه دجهاد لویې کورنۍ ته یوه لویه ضایعه بولي؛ مرحوم ته د لوی خدای (ج) له درباره د فردوس جنت؛ کورنۍ، دوستانو او دسنګر ټولو ملګروته يې د ستر رب له درباره د جمیل صبر غوښتنه کوي.
روح يې ښاد او لاره يې له لارویو دکه اوسه
عبدالهادی ارغندیوال
د حزب اسلامي افغانستان رئیس

## د اجرایي ریاست لومړی مرستیال د یونیسف استازی، د پاکستان سفیر او د کابل د امنیې قوماندان سره وکتل

شهادت، کابل:
د افغانستان لپاره د یونیسف استازی آکهیل آییر د اجرایي ریاست لومړي مرستیال انجنیر محمد خان سره ولیدل.
په دې ناسته کې چې د هېواد او د هېوادوالو د ستونزو په اړه هراړخیزې خبرې ترسره شوې، انجنیر محمد خان د خپلو خبرو پر مهال وویل: د افغانستان دولت او ولس د یونیسف لخوا د پوهنې، خوراک، روغتیا، کلوالي، طبعي پېښو، د پولیو پر ضد مبارزه او نورو برخو کې ترسره کېدونکو فعالیتونو او خدمتونو څخه ستاینه او مننه کوي او د ملګرو ملتونو په شمول له نړیوالې ټولنې څخه امید کوي چې د افغانستان دولت او ولس سره به خپلو بې ساري مرستو ته ادامه ورکوي.
د یونیسف استازي په خپل وار وویل: یونیسف د افغانانو ستونزو ته تل لومړیتوب ورکړی او په راتلونکي کې به يې هم یوازې پربنږدي.
نوموړي د خپلو خبرو پرمهال په ځانګړې توګه په راتلونکي اووني کې د غزنې ولایت د روغتون او کلینکونو سره ترسره کېدونکو مرستو یادونه وکړه چې...

(۴ مخ)

## اعلان فاتحه

**به اطلاع تمام دوستان رسانیده میشود که:**
فاتحه مرحوم الحاج ډګرجنرال امان الله ((خوړمن)) سابق آمر عمومی جبهات جهادی میدان و رئیس تنظیمهٔ ولایت میدان وردک، عضو شورای اجرائیه و رئیس هیأت نظار حزب اسلامی افغانستان یکی از شخصیت های ماندگار جهاد برحق مردم افغانستان علیه اشغال و تجاوز، به اثر مریضیی که عاید حالشان گردیده بود داعی اجل را لبیک گفته به لقاء الله پیوست.
((ما از آن خدا ایم و بازگشت ما بسوی اوست))
جنازه مرحومی قبلاً روز شنبه در هدیرهٔ آبائی شان در مرکز میدان شهر در حضور داشت هزاران مجاهد راستین این سرزمین شهید پرور و قهرمان بخاک سپرده شد.
مراسم فاتحه خوانی این مجاهد بزرگ از طرف شورای رهبری حزب اسلامی افغانستان، قوماندانان جهادی، اقارب مرحومی، مجاهدین، متنفذین و سائر اهالی متدین ولایت میدان وردگ امروز سه شنبه مورخ ۷ / ۱۱ / ۱۳۹۳ از ساعت ۳۰ : ۱ الی ۳۰ : ۳ بعد از ظهر در مسجد جامع شیرشاه سوری واقع کارته چهار برگزار میگردد.

### د کلیو د پراختیا وزارت لپاره کاندید وزیر انجنیر نصیر احمد دراني:

## په وزارت کې به د کارونو د روڼتیا ځانګړې اداره رامنځته کړم

کابل، پژواک:
د کلیو د پراختیا وزارت لپاره کاندید وزیر انجنیر نصیر احمد دراني وايي، چې له ولسي جرګې څخه د باور رایې له اخیستو وروسته به په وزارت کې د کارونو د روڼتیا لپاره ځانګړې اداره رامنځته کړي.
انجنیر نصیر احمد دراني د ملي یووالي حکومت په کابینه کې د کلیو د پراختیا وزارت ته د کاندیدوزیر په توګه اعلان شوی دی.
ټاکل شوې ده، چې راتلونکې اونۍ ولسي جرګه د حکومت له خوا اعلان شویو ۲۵ کاندید وزیرانو او د ملي امنیت او د افغانستان بانک لپاره دوو کاندید رییسانو ته د باور رایه ورکړي.
انجنیر نصیر د مرغومي په ۲۵مه، له پژواک خبري اژانس سره په یوه ځانګړې مرکه کې وویل، د باور رایې له اخیستو سره سم به ددغه وزارت ټول پروګرامونه وڅېړي او تر څېړنې وروسته به...

(۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# تابعیت واحد، معیار وفاداری به مصالح ملی کشور

مسألهٔ تابعیت یکی از مباحث حقوق بین الدول بوده و آن عبارت از تأمین رابطهٔ‌منظم و دوامدار قانونی و سیاسی یک فرد با دولت متبوعش می باشد. تابعیت در اصطلاح به معنای پیروی و تابعداری فرد از اوامر دولت آمده است که در زبان انگلیسی، ملیت (Nationality) هم گفته شده است. تابعیت از آن جهت موضوع سیاسی است که تابعداری فرد به دولت مربوط به حاکمیت سیاسی دولت می شود و حقوقی بودنش به خاطر آن است که فرد با حصول سند تابعیت، دارای حقوق و وجایب معین در قلمرو دولت می‌شود. این حقوق و وجایب، یک رشته امتیازات، مکلفیت ها، علایق و وابسته گی هایی را به فرد انتقال می دهد که تبعهٔ مورد نظر، مکلف به رعایت آن است. چون هر تبعه ای در کشور متبوع خویش دارای حقوق و مکلفیت های معین می باشد، پس هر فردی از افراد ساکن در یک قلمرو باید دارای تابعیت دولت واحد باشد . چون در جهان امروز هر دولتی دارای منافع و مصالح خاص خود است و بعضاً پابندی و تأکید روی این مصالح، منجر به اصطکاک منافع میان دولت ها می شود، لهذا داشتن یک تابعیت از جمله مزایا و محاسن فرد دانسته می شود.

فشارهای سیاسی، آزادی فکر و عقیده، مهاجرت ها و بالاخره تلون مزاجی و جاه طلبی عده ای باعث می گردد که گاهی بعضی افراد از تابعیت اولی اش طوعاً و یا کرهاً انصراف نموده و تابعیت دولت دیگری را حاصل نماید. دراین صورت امکان دارد که فرد با دریافت تابعیت دوم، تابعیت اول خود را ترک کند و یا با تعلیق در آوردن تابعیت اولی، تابعیت دوم و سوم را نیز کسب نماید. کسب تابعیت های دوم و سوم، میزان وفاداری، علایق و وابسته گی افراد را به کشور متبوع اول شان کمرنگ و یا حتی محو نموده و افراد مجبورمی شوند تا با رعایت نظام سیاسی و حقوقی کشورهای متبوع دوم و سوم، احساس ملی و علاقه مندی به منافع و مصالح تابعیت کشور اولی را از دست بدهند. بناً افراد داری تابعیت مضاعف در دنیای امروز، اتباع وفادار به مصالح و ارزش های دینی و ملی یک کشور به شمار نمی روند و بنابر اختلاف و اصطکاک منافع دول، افراد دو تابعیته و یا بیشتر از آن نمی توانند در یک وقت منافع و خواسته های دو و یا چند دولت را احترام نمایند. به همین سبب است که در قانون اساسی اکثر کشورها برای اشخاص طراز اول دولتی شاغل در ارگان های مهم و حساس که صلاحیت رتق و فتق امور را در اختیار دارند ، این شرط وضع شده که آن ها باید از پدر و مادر تابع به یک دولت واحد تولد شده باشند و همچنان خود این اشخاص تابعیت دولت دیگری را نداشته باشند.

آنچه که مسأله تابعیت را در کشور ما بی ارزش جلوه داده و بعضی از اولیای امور نسبت به آن بی تفاوت اند، دلیل و انگیزهٔ آن اینست که در افغانستان طی چهار دههٔ اخیر از یک سو پروسهٔ مهاجرت افغان ها به کشورهای خارجی پایان نیافته و هنوزهم آمد و رفت هموطنان ما به کشورهای میزبان ادامه دارد و از سوی دیگر کشور جنگزدهٔ ما پس از معاهدهء بن، از لحاظ امنیتی، سیاسی و اقتصادی تحت حمایت مستقیم جامعه جهانی بالخصوص کشورهای غربی و در رأس آن ایالات متحده امریکا قرار دارد. این دولت ها ترجیح می دهند که در رأس قدرت افغانستان کسانی قرار بگیرند که دارای تابعیت آن کشورها بوده و با آن ها شناسایی داشته باشند، زیرا آن ها نسبت به سایر اتباع افغان، خواسته ها و منافع دول مزبور را بیشتر مطمح نظر قرار می دهند و در اتخاذ سیاست خارجی شان مساعی به خرج می دهند که منافع کشورهای متبوع دوم از نظر انداخته نشود.

مصوبه شورای ملی افغانستان مبنی بر حذف اسمای کاندید وزیران دو تابعیته از فهرست کابینهء پیشنهادی رئیس جمهور، تصمیم معقول و قانونی بوده و این مصوبه مبتنی بر حفظ ارزش های دینی و ملی این مرز و بوم می باشد. البته وسوسه ایجاد شده در ذهن بعضی نمایندگان که گویا باید بر مصوبهٔ مذکور تجدید نظر شود، ناشی از القاآت نفسانی و مداخله دست های غرض خارجی است که می خواهند به نحوی از انحا در امور داخلی کشور ما دست باز داشته باشند. تا زمانیکه خارجی ها خودشان در کشور ما حضور فزیکی فعال داشتند، به طور مستقیم در جهت تأمین منافع شان تلاش می کردند و حالا که این حضور فزیکی آن ها کم کم محدود شده می رود، آن ها می خواهند که به وسیلهٔ جابجایی مهره های خویش این سلسله را ادامه بدهند.

اگر شورای ملی افغانستان می خواهد امور کشور ما در دست فرزندان اصیل و صدیق افغان رقم زده شود و خود مردم بر سرنوشت سیاسی خویش حاکم باشند، مسأله داشتن یک تابعیت، علاقه مندی هیأت حاکم به آب و خاک، داشتن روحیه ملی قوی و رعایت ارزش های دینی از جمله شرایط مهمی است که زمامداران و سروران دولت باید واجد آن باشند و تأکید برداشتن این شرایط، نه تنها خواست و آرمان کافهء مردم است، بلکه وجیبه دینی و وطنی فرد فرد ملت افغان، خصوصاً نمایندگان مردم در خانه ملت نیز می باشد.

---

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598
ahmadshah.wahdat2@yahoo.com

ف، فایض

# وضعیت مهاجرین افغان مستلزم توجه جدی دولت

بعد از آنکه حکومت کمونستی حزب دموکراتیک خلق درنتیجهٔ یک کودتا که درعقب آن روسها قررا داشتند درسال ۱۳۵۷ بمیان آمد، خیلی زود به اثر قساوتها ووحشتهای اعضای این حزب مهاجرتهای دسته جمعی آغاز شد، با آنکه عده یی از اعضای نهضت اسلامی در زمان حکومت داوود به اثرقساوتهای او مجبور به ترک کشور شده بودند. هرقدر فشار حکومت کمونستی بالای ملت می افزود برکاروانهای مهاجرین افزوده میشد که در فرصت کمی تعداد مهاجرین از هزارها به ده ها هزار، از ده ها هزار به صدها هزار و از صدها هزار به ملیونها بالغ گشت، مردم از یک طرف با تأسی از حکم قرآن و سنت پیامبر گرانمایهٔ اسلام صلی الله علیه وسلم و از سوی دیگر به اثر وحشیگریهای نوکران کریملین وکمونیزم مجبور بودند خانه وکاشانهٔ خود را رها کرده، بسوی یک سرنوشت نامعلوم ترک وطن بگویند.

عاقبت این هجرت هم معلوم نبود، زیرا از یک طرف یک حزب وحشی و خداناشناس جانی و قاتل و عقده مندبه قدرت رسیده بود و در سال بعد آن(۱۳۵۸) لشکر روسی برخاک ما یورش آورد که سرنوشت آیندهٔ افغانستان را بیشتر به هاله یی از ابهام سپرد.

از طرف دیگر خود کشورهای همسایه که مهاجرین ما به آن پناهنده شده بودند و هکذا غرب از وضعیتی که درافغانستان بوجود آمده بود اهداف خطرناکتر از روسها را تعقیب میکردند که اثرات آنرا ما امروز بچشم سر می بینیم، روسها لله الحمد به کمک خداوند دراثر رشادت و فداکاریهای ملت مؤمن ما در افغانستان شکست خوردند، چنان شکستی که امپراتوری خود را هم از دست دادند و شوروی اسبق به تحلیل رفت (۱۹۹۱) و پوقانهٔ ایدلوژی سرخ که درجهان غوغایی برپاکرده بود هم ترکید، ولی امروز می بینیم که غرب به همکاری کشورهای همسایه ما، غوغای بزرگتر از شوروی وکمونیزم برپاکرده اند.

بنده در اواخر حکومت نجیب به این عقیده شده بودم که بعد از سقوط حزب دموکراتیک وسقوط نجیب همین همسایه ها و درعقب آن غرب بلای جان مجاهدین و افغانستان مجاهد پرور خواهند گشت؛ زیرا درنتیجهٔ مطالعات خصوصی خود به اهداف غرب وکشورهای همسایه پی برده بودم و بخصوص مطالعهٔ تاریخ معاصر کشور مرا بیشتر درین زمینه یاری میکرد؛ ولی با تأسف مجاهدین ما بصورت عام بیشتر متوجه این خطر نمیشدند، ورنه رژیم نجیب باید درنتیجهٔ مشت کوبندهٔ مشترک مجاهدین سقوط میکرد تا زمینهٔ آن مهیا می شد که اعضای خونخوار حزب دموکراتیک به جزای اعمال شان میرسیدند. اما وضعیت چنان شد که سران مجاهدین برای آنها عفو عمومی اعلان کردند درحالی که این خونبخشی ملت بهیچوجه حق شان نبود، نتیجهٔ این خونبخشیها آن شد که امروز همان قاتلان دیروزه ما در ادارات ملکی و نظامی ما حضور فعال دارند ووقتی عده یی شان به اصطلاح بنام کارشناس (!) در تلویزیونها می نشینند جنایات خود را توجیه میکنند و بمصداق بگیرش که نه نگیرت تمام برفهای بام خود را بالای بام مجاهدین می اندازند و مسؤولیت تمام تراژیدی یی را که درحقیقت از کودتای سرطان ۱۳۵۲ آغاز شد و بعد از کودتای ثور ۱۳۵۷ تشدید یافت، بردوش مجاهدین می اندازند؛ خود شان غلامی خود را فراموش میکنند و مجاهدین را آله دست استخبارات کشورهای همسایه می دانند که این قضاوتهای ظالمانه وچشم سفیدانه به خاطر آن صورت میگیرد که جنایات خود را کم از کم از انظار نسل جوان ما پوشانده باشند؛ زیرا نسل جوان که آن همه وحشیگریهای این گروه مزدور را ندیده اند، فکر میکنند که راستی هم بار همهٔ ملامتی بردوش مجاهدین است و مجاهدین هم کمتر وسایلی در اختیار دارند و یاکمتر توجه میکنند که نسل جوان ما باید از جریان تمام این تراژیدی که آغازگر آن همین کمونستهای خونخوار و سفاک هستند، آگاه شود.

بهمه حال وقتی در بهار سال ۱۳۷۱ حکومت نجیب آخرین مهرهٔ کریملین سقوط کرد و خودش در دفتر ملل متحد درکابل پناهنده شده در افغانستان یک حکومت نامنظم مجاهدین تشکیل شد، باید دولت جدید اولتر از همه برای عودت مهاجرین برنامه های مؤثری پی ریزی میکرد؛ ولی دولت مجاهدین بجای کارهای اساسی راهی در پیش گرفت که درنهایت بخیر خانوادهٔ بزرگ جهاد و بخیرکافهٔ ملت مسلمان افغانستان نبود. نتیجه آن شد که باگذشت هرروز مهاجرین ما در دیارهجرت و هموطنان مؤمنی که درافغانستان بودند و یا عده قلیلی از مهاجرین که به وطن عودت کرده بودند، شکار یأس میشدند، زیرا جای صلح را بنام های دیگری جنگ گرفت و امروز همان کمونستهایی که چهارده سال تمام درکشور بدون خونریزی و ویرانی کار دیگری نکردند به مجاهدین طعنه روامیدارند که تا حد زیادی بهمان طعنهٔ بز به گوسفند میماند.

**تعدادی از مهاجرینی که در زمان حاکمیت نیم و نیم بند مجاهدین به کشور برگشته بودند در زمان حاکمیت طالبان بنابر عوامل عدیده دوباره راهی دیار هجرت شدند. بعد از سال ۱۳۸۰(۲۰۰۱) که دولت جدید تشکیل شد و به اصطلاح تبلیغات کمکهای جامعهٔ جهانی همه دنیا را گرفت و حتی من خودم همان وقت در مطبوعات پاکستانی خوانده ام که بر افغانستان بارش دالر ادامه دارد؛ ولی هیچکس از ماهیت این کمک و نحوهٔ این کمکها خبرنداشت، مردم نمی فهمیدند که کمکها از راه در میآید و از راه کلگین دوباره خارج میشود، ورنه امروز افغانستان سیمای دیگری میداشت.**

دولت وقت هم بنابرمعاذیری که داشت چون درحقیقت از صفر آغاز کرده بود نتوانست برای بازگشت مهاجرین یک برنامهٔ دقیقی بریزد. افغانستان از ناحیهٔ سرپناه برای مهاجرین زمینهای وسیع دولتی را در اختیار داشت که متأسفانه امروز در اثر عدم توجه یا عدم توانمندی دولت گذشته بخش عمدهٔ آن در تصرف غاصبین در آمده است. هرقدر مهاجرین ما درکشور های همسایه حضور بیشتر میابند ملت ما بهای آنرا خواهد پرداخت.

بتاریخ ۱۶ دسمبر ۲۰۱۴ واقعهٔ دلخراشی در پشاور بوقوع پیوست و آن حمله بریک مکتب درمربوطات شهر پشاور بود که تلفات زیادی را دربی داشت. این حمله ناشی از سیاستهای نادرست خود دولت پاکستان بود، دولت پاکستان آنچه کاشته بود درو کرد و بمصداق حرف حافظ:

**از مکافات عمـل غـافل‌مشو**
**گندم از گندم بروید جو زجو**

با آنکه مسؤولیت این حادثه را تنظیم طالبان پاکستانی بر دوش گرفت وآنرا جوابی به عملیات اردوی پاکستان بنام «ضرب عضب» در منطقهٔ وزیرستان خواند، ولی با آن هم چون دولت پاکستان مهاجرین افغان مستقر درپاکستان را به اصطلاح بام پستک خود یافته است، آنها را تحت فشار های جسمی و روانی قرار داد، گویا که درعقب این حادثه دست افغانستان باشد. درحالی که این یک قضاوت بسیار نادرست و غیر عادلانه است و بدین ترتیب میخواهد پرده به روی بازیهای خود بیندازد. بتاریخ ۵/۱۱/۱۳۹۳ رسانه ها از گرفتاری سه هزار مهاجرافغان درپاکستان خبر داد که تعداد زیاد شان در ایالت خیبر پښتونخوا از سوی مقامات امنیتی پاکستان گرفتار شده اند. این وضعیت بهانهٔ خوبی به دست پولیس پاکستان داد تا به ناحق مهاجرین افغان را گرفتار و پول شانرا از جیب شان بربایند. متاسفانه حکومت قبلی افغانستان در سیزده سال نتوانست حداقل یک شفاخانه در مرکز و حداقل به حساب زون هم یک یک شفاخانهٔ بزرگ اعمار نماید که دارای وسایل پیشرفته و دکتوران مجرب باشد که مردم همه روزه به تعداد هزاران نفر به خاطر تداوی به پاکستان نروند و از گزند اذیت و آزار پولیس پاکستان مصون باشند.

بهمه حال در افغانستان همواره فرصتها ضایع شده است: ولی در سیزده سال گذشته که بسیار ضایع گردیده است، امید واریم دولت کنونی ما از پذیرش مهاجرین خود شانه خالی نکند و وزارت مهاجرین طرح و برنامه های مؤثری برای برگشتاندن مهاجرین بریزد که کم از کم مهاجرینی که علاقه مند برگشت به کشور هستند ولی نسبت مشکلات سرپناه به کشور برگشته نمیتوانند برگردند، هکذا دولت باید برنامه هایی برای کاریابی بریزد تا آنعده از مهاجرین ما که به اثر نبود کار بکشور برنمیگردند مطمئنانه به کشرو برگردند ورنه من باز میگویم اگر دولت این کار را نکند، علاوه بر آنکه مهاجرین ما همه روزه اذیت و آزار خواهندشد، دولت هم بهای آنرا خواهد پرداخت و ملت هم. تازمانیکه سلسلهٔ این مهاجرتها انقراض نیابد ما با چالش نبود امنیت و ده ها چالش دیگر مواجه خواهیم بود، دولت باید فراموش نکند که وقایه بهتر از تداوی است دولت بابرگشتاندن مهاجرین باید خود را وقایه کند و بهانه هایی بدست دشمن ندهد.

فراموش نکنیم که مهاجرین افغان در ایران هم متأسفانه اذیت و آزار میشوند بیشتر از مهاجرینی که در سالیان گذشته به ایران رفته اند بیشتر شان معتاد شده اند و این از عدم توجه وعدم همکاری برادرانهٔ دولت ایران بشمار میرود که افغانستان تا سالیان دراز از برداشتن این کوله بار اذیت خواهد دید.

نصرالله

# عمل مهم دی نه خبرې؟!

**د تیرې سه شنبې په ورځ ولسمشر اشرف غني پارلمان ته دکابینې دمعرفي پروخت ډیرې اوږدې او په زړه پورې خبرې وکړې. کیدای شي زما په خیر ډیرو هیوادوالو هم دولسمشر خبرې خوښې کړې وي او دخپل پالونکي ذات پر وړاندې په ډیره عاجزۍ او تضرع چارواکوته پخپلو خبرو دعمل کولو دعاګانې هم کړې وي.**

**زموږ په هیواد کې د ښو خبرو، ښو پلانونو، ښو وینااو ښو تجویزونو هیڅ کمی نشته، زموږ مشرانو تل خپل اولس ته له جذباتو ډکې جادویي او ولوله پاروونکې ویناوې کړي دي؛ خو له بده مرغه دعمل په ډګر کې هیڅ لاسته راوړنې نه لري؛ نوځکه هیوادوال دچا خبروته هومره اهمیت نه ورکوي څومره چې عمل ته یې ورکوي. دافغانانو ستونزه دانه ده چې په خبرو نه پوهیږي او یاهم دکارونو د پرمخوړلو قابلیت نه لري؛ بلکې اصلي ستونزه یې داده چې څه وایي پرهغه عمل نه کوي. ددې پرځای چې پر روغه لاره روان شي پر ناسمه لاره روانیږي، ددې پرځای چې د قانون احترام وکړي او هرڅه دقانون په رڼاکې ترسره کړي په ناقانونه توګه یې ترسره کوي، موټرته دتراکتور تایرونه اچوي او تراکتورته د موټر. ددې پرځای چې له بهرنه مرسته شوې پیسې پربنسټیزو کارونو ولګوي او خپلې ستونزې وربباندې حل کړي په سرسري کارونو یې لګوي، بالکل داسې لکه چې یوماشوم ته څوک سل افغانۍ ورکړي چې خانته بنین واخلي؛ مګر هغه په دکان کې وربباندې جاولې، پاپراویوکانې واخلي او خپلې پیسې په اوبو لاهو کړي. خبرې او برنامې وړاندې کول یو اړخ لري؛ مګر هغه ته عملي بڼه ورکول بل اړخ. تشې خبرې او وعدې دلږ وخت لپاره د اولس دغلې ساتلو یوه وسیله خو کیدای شي؛ مګر په مستقل ډول دهغوی غافلول ناشوني دي، ځکه چې اولس دغوږو وعدو له اوریدو وروسته دهغو دعملي بڼې دلیدو انتظار وباسي، که دغه شوې وعدې ترسره شي؛ نو اولس دخوښۍ ساه اخلي او که ترسره نشي؛ نو ناهیلي کیږي او دحکومت پرخلاف دګرکې ځپه بې نوره هم زیاتیږي.**

اوسنی چارواکي باید داخبره په ذهن کې کیښنوي چې اولس نور نه دچا دغوږو خبرو او وعدو تراغیز لاندې راځي او نه هم دا حوصله لري چې بیاهم د صبرجام پرسر واړوي او غلي کیني؛ بلکې دهرې وعدې سملاسي عملي بڼه لیدل غواړي.

تراوسه پورې چې د هیوادوالو ستونزې نه دي حل شوي او دفساد ریښې ورځ تر بلې نورې هم غځیږي ددې یواځنی لامل دچارواکو غفلت او له مسؤولیت نه تیښته ده.

ولسمشر او نور حکومتي لوړ پوړي چارواکي لکه څنګه چې له نومونونه یې څرګندیږي دهیواد اوولس پروړاندې له بل هرچا زیات مسؤولیت لري د هیواد پرټولو چارو دنظارت فریضه ددوی پرغاړه ده، دوی دالوتکې د انجن حیثیت لري که انجن روغ رمټ او سالم وي؛ نو الوتکه الوتنې کوي او دخپل ټاکل شوي هدف په لور حرکت کوي او که خراب وي؛ نو له ظاهري سکلیټ نه پرته بله ګټه ترینه نشي اخستل کیدای، دهیوادوالو قیادت پرغاړه اخستل په حقیقت کې نه کوم امتیاز دی او نه هم کوم ویاړ؛ بلکې دمسؤولیت یولوی پیټې دی چې پرخپلو اوږدو اخستل کیږي. د اقتدار خاوندان باید امین، متدین خدمت کار، تقوا دار صابر، متین شجاع، ذکي، بیدار او معامله فهم وي کوم چارواکي چې له دغو مواصفاتو څخه محروم وي هغوی کله هم دخپل اولس او خاورې د سهي خدمت مصدر نشي ګرځیدلای. په هیواد کې د امانت دیانت او تقوی فرهنګ هله خپلې وزرې غوړولای شي چې لوړ پوړي چارواکي دا ټول مواصفات پخپلو ځانو کې راپیدا، او دملت باور جلب کړي، نه داسې چې پخپله دی حملی وکړي او نورته نصیحت، د محمد صلی الله علیه وسلم حدیث شریف دی چې دقوم

مشران دملت خادمان وي نه باداران؛ خو ډیر افسوس چې زموږ په ګران هیواد کې مشران باداران جوړ شوي او پر رعیت یې دظلم بازار ګرم کړی دی، ځکه چې هغوی دخپل اولس د خدمت لپاره نه؛ بلکې پرهغوی د باداري دشوق د پوره کولو په مقصد له هرې روا او ناروا لارې نه اقتدار ته رسیدلي. د حکومت پرټولو لوړو پوستونو دهغوی او لادونه او خپلوان قابض دي. که پلارېې والي دی: نو زامن او ورونه یې رئیسان او آمرین دي، د هیواد پرټولو ارګانونو یې خپلې خونړۍ پنجې ښخې کړي او په یو ټیلفون یې کارونه خلاصیږي، نه له ګرمي نه خبریږي نه له یخنۍ نه، نه له لوږې نه څوریږي نه له تندی نه، ورځ یې اختر او شپه یې شوقدردي، دامریکا، اروپا، ترکیې کانادا او متحده اماراتو تابعیتونه اوګرین کارتونه په جیبونو کې لري اولادونه یې هلته او دوی پخپله په افغانستان کې دعیش او عشرت ژوند تیروي، په ازموینو کې یې پرچې بل څوک حلوي او په مفتوکې د برې سند ترلاسه کوي، تجاران دګمرک رئیسان اونور غرضي اشخاص ورته قیمتي موټرې، رادو ساعتونه، قالینونه او نور ډول ډول شیان ډالۍ کوي، لنډه داچې د نعمتونو ترباران لاندې د خوښۍ ژوند لري، مګر رعیت په سلو غمونو کې راګیردی، دورځې آرام نه لري او د شپې خوب، څوک له لوږې کړیږي اوڅوک له ظلم او ناامنۍ نه، دچا پرعفت او آبرو تیری کیږي او دچا پرمال او سر؛ رشوت، غلا، قتل غارت، ظلم او فساد اوج ته رسیدلي، لاقانونیت دومره عام شوي چې په ټول هیواد کې یوکار هم دقانون په مطابق نه ترسره کیږي، اولس په مسلسل ډول په اداروکې دقانون دنه تطبیق له کبله دومره مایوسه او پریشان شوي چې واسطو او رشوت ورکولو له لارې دخپلو کارونو خلاصولوته لومړیتوب ورکوي ځکه چې له قانوني لارې یوکار په ډیر مشکل سره ایله په کال کې خلاصیږي خو له غیر قانوني لارې په څو ورځوکې، اصلاً په هیواد کې دیو بام او دوه هوا فضا حاکمه ده، چارواکي په مطلق ډول له هرڅه ییغمه د عیش او عشرت په نعمتونو کې مزې اخلي، مګر بیچاره اولس د غربت افلاس، ناامنۍ ویرې، بی کارۍ، بې عدالتۍ، زورواکۍ، ظلم سالارۍ رشوت سالارۍ اونور ډول ډول ستونزو په ژرنده کې دل کیږي، داسې څوک نشته چې د مظلوم فریاد واوري، دکونډو، رنډو یتیمانو اوښکې پاکې کړي، له غاصبانو غصبي شوي زمکې واپس واخلي، دکمزور او بې وزلو وګړو انساني کرامت ته تحفظ ورکړي، بې کوروته کور او بې کاروته کار او بار برابر کړي، پرهغو غریبو تنکي ماشومانو چې له مجبوریته په ګنده ډیرانو کې پلاستیکونه،

بوتلې، دجوس ډبې او نور شیان راټولوي رحم وکړي، اړتیا وې پوره کړي او ښونځیتونه یې ولیږي، دهغو مزدورکارانو غم وخوري چې شپه ورځ د خپل هیواد په ابادۍ کې لاسونه تناکي کوي او خولې بهوي، مګر دومره لږه اجوره ورته ورکول کیږي چې یوازې دمزدورکار درې وخته دوډۍ وربباندې هم نه کیږي چې په مړه ګیډه یې وخوري او خپله انرژي وربباندې پوره کړي، که یو سرمایه دار په ملیونو ډالرو پلازې، بلند منزلونه، او بلاکونه جوړولای شي پرهغو مزدورانو یو لک تناکو او خولو لوړی پلازي، بنګلي

کورونه، شرکتونه، سړکونه، کار خانې او بلند منزلونه جوړوي؟

همداراز دهیواد هغه امنیتي ځواکونه، دسرحدونو محافظین اوسرتیري چې دخپل هیواد ددفاع او استقلال په خاطر خپلې ککرې په تلي کې نیولې او شپه ورځ د جنګونو په لمبوکې تیروي دهغوی پروخت معاشونو، خوراک څښاک او نورو ضروریاتوته ولې پاملرنه نه کیږي؟

رسنیو په کراتو مراتو د اردو، پولیس په حواله دا شکایتونه خپاره کړي دي چې هغوی ته پروخت معاشونه نه ورکول کیږي، دجګړو پروخت ورته وسلې او نور مهمات نه رسیږي اوترڅو ورځو پورې تږیان او مږي یې نه انتقالیږي، کله چې د یو هیواد مجموعي حالت تردې کچې خرابې ته رسیدلې وي هلته چارواکوته حساس، بیدار او فعال کیدل پکار دي نه داچې ایله خپل ارام ته ترجیح ورکړي او دفیل په غوږ کې دغفلت خوبونه وکړي، اولس نور له تشو خبرو، وعدو، پلانونو، طرحو او نقشونه په تنګ راغلی د ټول عمر دچارواکو غوږې خبرې او وعدې یې اوریدلي دي؛ خو عمل یې نه دی لیدلی، لدې وروسته نور له خپلو چارواکو عمل لیدل غواړي او یواځې عمل د ټولو ستونزو حل ګڼي؛ نو ځکه د ملي یووالي دحکومت مشران دخپل اولس پر وړاندې دهغو ژمنو او وعدو پراساس چې اقتدارته له رسیدو مخکې او وروسته یې کړې دي مکلف دي چې اصلاحات له خپلو ځانونه پیل کړي، دقانون حاکمیت او برلاسي له خپلو اداروڼه شروع کړي.د اصراف مخه له خپلو دفترونونه ونیسي ټول اولس ته دخپل عیال او کورنۍ په سترګه وګوري، دهر چا مشکل خپل مشکل وګڼي، په معاشونو کې دې تعادل رامنځته کړي نه داسې چې یودې په لکونو تنخوا اخلي او بل دی اوه اته زره افغانۍ چې دکورکرایه وربباندې هم نشي لنډولای.

دملي وحدت دحکومت مشران دې دهیواد په ګوټ ګوټ کې ملي روحیه پیاوړې کړي قانون دې پر ټولو یو شان او یو برابر وچلوي، مفسدین غاصبان، بدې اخستونکي او خائنین دې ټول دعدالت منګولوته وسپاري، ټول حرام مال دې ترینه بیرته واخلي او سخته سزادې ورته ورکړي، هیواد په حقیقي معنی هر اړخیز او سالم انقلاب ته اړتیا لري او دا انقلاب هله تحقق موندلای شي چې لوړ پوړي چارواکي له بره نه انقلابي عمل په کار اچوي، د ټول اولس لپاره دنیکۍ، تقوا یووالي، همغږۍ ایمانداری، خدمت، ګذشت زغم سخاوت شجاعت اخلاق ایثار او همدردۍ بیلګه جوړشي، دټول اولس اعتماد ترلاسه کړي او دهغوی په ملاتړ خپل هیواد دامن استحکام او خوښۍ ژانګو جوړه کړي.

د ملي وحدت حکومت مشران دېخوا په نسبت دخپل اولس له ملاترنه زیات برخمن دي او دملي یووالي روحیه چې څومره اوس پیاوړې ده پخوا کله هم دومره نه وه پیاوړې.

اولسمشر غني او اجرائیه رئیس عبدالله او دهغوي مرستیالانوته پکاردي چې له دغه طلایي چانس نه ګټه واخلي، هیواد له موجوده بوګنوونکي حالت څخه وژغوري، قانون حاکم کړي او هیواد یوځل بیا پر داسې مزبوتو بنسټونو ودروي چې ددښمنانو ټولې شومې ارادې شنډې او افغانان دامن او خوښۍ په فضا کې د ژوند تیرولو جوګه شي.

## دجهاد د تلپاتې حماسې...

(د لومړی مخ پاتې برخه)

... د هیواد د آزادۍ په تکل بیا پیل کړه، په همدې کال کې د حزب اسلامي افغانستان د مجاهد قیادت له خوا د میدان وردګو ولایت مرکز کې د مشعل حق په نامه د مجاهدینو د چریکي ګروپ قوماندان شو، او تر ۱۳۶۱ ل کال پورې یې د دغه جهادي ګروپ قومنداني په غاړه درلوده، په همدې کال کې دغه ګروپ د مشعل حق په جبهه بدل شو او ډګرجنرال امان الله «خوړمن» یې قوماندان شو، تر ۱۳۷۴ ل پورې د همدې جبهې عمومي قوماندان پاتې شو، چې په دې موده کې یې روسي ښکیلاککرو او د هغوی مزدورو غلامانو ته داسې ماتې ورکړې چې د افغانستان د اسلامي انقلاب د مبارزو په تاریخ کې به په زرین خط ولیکل شي، له دې مودې وروسته د لشکر ایثار د فرقې د سرپرست قوماندان په توګه وټاکل شو، له یو کال سرپرستۍ وروسته د سما دفرقې د قوماندان په توګه وټاکل شو، تر یونیم کال قوماندانۍ وروسته د میدان وردګو دولایت د ضرب مومن په نامه د فرقې قوماندان شو، او وروسته مرحوم ډګرجنرال امان الله «خوړمن» د میدان وردګ ولایت د تنظیمه رئیس په توګه وټاکل شو، د ۱۳۷۵ لمریز کال وروسته یوځل بیا له هیواد څخه هجرت کولوته مجبور شو، او دپېښور ښار په نصرت مینه کې هستوګن شو.

ارواښاد «خوړمن» افغانستان ته د امریکا او ناټو ځواکونو تر راتګه وروسته د هغوی له خوا ونیول شو او د ۱۴ میاشتو بند له تیرولو وروسته په ۱۳۸۳ ل کال کې آزاد شو، خو د زندان د ننه شکنجې دومره شدیدې او له انسانیته لرې وې چې له زندانه د خلاصیدو څخه څه موده وروسته په ډیرې سختې ناروغۍ اخته شو چې د ژوند تر پایه له دغې ناروغۍ سره لاس او ګریوان او د شهادت ستر سبب یې همدا ناروغي وه.

له زندانه تر خلاصیدو وروسته هم هغه آرام پرینښودل شو او مجبور شو چې یو ځل بیا د هجرت لار خپله کړي، او له خپل هغه ټاټوبې ووځي چې د خپل ژوند ډیره برخه یې د هغې د آزادۍ لپاره مبارزه کړې وه، له هجرت وروسته د پېښور ښار د حزب اسلامي افغانستان د مجاهدو مهاجرینو په کمپ نصرت مینه کې اوسیدو او په لومړي سر کې د دې کمپ د امنیت رئیس وټاکل شو، دغه دنده یې په پوره اخلاص او امانتدارۍ سره ترسره کوله بیا د حزب اسلامي افغانستان د هیئت نظار مسؤل وټاکل شو چې د ژوند تر پایه یې دغه دروند مسؤلیت پر غاړه و او په پوره اخلاص، صداقت او جدیت سره یې دغه دنده تر سره کوله.

بالاخره د را د افغانستان د اسلامي انقلاب ځلانده او بې ساري ستوری د روان کال (۱۳۹۳) د سلواغې میاشتې په دوهمه نیټه د جمعې په مبارکه شپه د هغې ناروغۍ له لامله په شهادت ورسید چې په زندان کې دشکنجو له لامله ورته پیدا شوې وه.

**دا یاران لکه ګلونه د بهار دي**
**دخزان په باد ریژیږي دریغه دریغ**

شهید ډګر جنرال امان الله «خوړمن» په واقعي معنی یو مجاهد مؤمن، د تقوا، شجاعت، صبر استقامت او میړانې الګو و، د نومیالي «خوړمن» بله ځانګړنه دا وه چې تل به یې د الله ج او د هغه د رسول صلی الله علیه وسلم پریکړې ته پر بلې هرې پریکړې ترجیح ورکوله او خپلې ټولې چارې به یې د قرآن کریم او سنت پیغمبر صلی الله علیه وسلم په رڼا کې لټولې.

د جهاد په سنګرونو کې شهید ډګر جنرال «خوړمن» داسې کارنامې پریښې چې مجاهدین به تل پرې ویاړي او یادوي به یې، د بیلګې په ډول د مجاهد جنرال «خوړمن» د کارنامو څخه یوه کارنامه دا وه چې د روسي ښکیلاککرو په وړاندې جهاد کې یې د لومړي ځل لپاره یو ولایت چې میدان وردګ و له روسي یرغلګرو او غلامانو څخه فتح کړ، «خوړمن» د مجاهدینو د تربیې په برخه کې ډیر اهتمام درلود حتی په هغو وختونو کې چې مجاهدینو سره د مرمیو کمښت هم احساسیدو خو دغه نومیالي قوماندان به پر خپلو ټولو مجاهدینو په ورځنۍ ډول عملي اعداد کاوه.

د شهید ډګر جنرال «خوړمن» ستره هیله دا وه چې په افغانستان کې د ملت د خوښې منتخب اسلامي حکومت قائم شي او زمونږ د اسلامي انقلاب د ارمانجنو شهیدانو ارمانونه تر سره شي، مجاهدین اوږه په اوږه له کوم توپیر پرته د الله د دښمنانو په وړاندې یو مرصوص صف جوړ کړي چې د خدای دښمنان یې له ماتولو مأیوس شي!

شهید ډګر جنرال امان الله «خوړمن» د ملت له مؤمنو ځوانانو دا هیله درلوده چې د شهیدانو له ارمانونو ساتنه وکړي او پرېنږدي چې زموږ ملت د یرغلګرو په لومو کې ښکېل پاتې شي، غوښتل یې ځوانان باید دتسلیمي نظریې ونلري.

په پای کې دعا کوو چې مجاهد پال رب دې زمونږ دغه مجاهد قهرمان د میدان وردګو د سنګرونو سرباز په خپل رحمت سره ونازوي او په جنت کې دې یې درجې لوړې او په دنیا کې دې یې سپیڅلي ارمانونه د نورو شهیدانو په خیر تر سره کړي او د شهید درنې کورنۍ ته دې جمیل صبر ورکړي!

او مونږ ته دې خدای توفیق راکړي چې د دغه شهید او نورو سپېڅلو شهیدانو د سپېڅلو ارمانونو ساتنه وکړو.

شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان شرانۍ ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
د هیات تحریر تر څارنې لاندې
د دفتر شمېره ۰۲۰۲۵۲۱۷۳۲

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت پر وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته زیان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي
• بوازې سرلیکنه د شهادت اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مېنه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com



تورن «آوری» رییس دارالانشای حزب اسلامی افغانستان در نشست نهاد بانوان حزب اسلامی افغانستان گفتند:

# شرم و حیا زیور زن مسلمان است، زنان افغان باید دارای شرم و حیای اسلامی باشند

تورن غلام سخی «آوری» رییس دارالانشای حزب اسلامی افغانستان در احیای مجدد سازمان زنان حزب اسلامی افغانستان که به روز چهار شنبه اول دلو سالجاری در دفترمرکزی حزب اسلامی افغانستان تدویر یافته بود، گفت: «برای ترقی، تعالی وشکوفایی یک کشور بیشتر از وسایل بیشمار دیگر به وجود مادران صالح و با عفت ضرورت است. تقاضای من از بانوان متدین و پاک سرشت افغانستان این است تا یک خانم وفادار به شوهر خویش و یک مادر نیک سیرت و فرشته صفت به فرزندان خود باشند، زیرا مادر خوب شهکار طبیعت است».

رییس دارالانشای حزب اسلامی همچنان افزودند: «زن خوب به مثابهٔ عصای محکمی است که مرد در سنگلاخ زنده گی می تواند به آن تکیه نماید و در هنگام فقر و در مانده گی از شفقت، غمخواری و دلداری او مستفید گردد».

تورن «آوری» در ادامهٔ صحبت های خود گفت که زنان دلیر و با شهامت افغان همچنانکه در دوران جهاد و مقاومت دوش به دوش مجاهدان سر به کف اسلام در راه اعتلای کلمته الله در برابر استبداد و استکبار جهانی مبارزهٔ دلیرانه نموده و برادران مجاهد خویش را در سنگر های گرم و خونین جهاد یاری و کمک نمودند، ایجاب می نماید تا در این برههٔ حساس تاریخی مانند «ملالی» و «ناهید شهید» پرچم پر افتخار اسلامی را در اهتزاز داشته و در مقابل اهریمن نابکار و ناخلف خارجی از هیچ نوع فداکاری دریغ نورزیده و نام نامی زنان با همت و با شهامت افغان را سربلند نگهدارند.

همچنان رییس دارالانشای حزب اسلامی افغانستان در قسمت خشونت علیه زنان که در این اواخر رو به افزایش است، اشاره نموده گفت: «خواهران و مادران باعفت و پاک سرشت افغان باید آگاه و بیدار باشند که اکثر پدیده های شوم اجتماعی و فرهنگی توسط دشمنان اسلام در جوامع اسلامی ترویج می گردد تا فرهنگ اصیل یک جامعه را به نابودی کشانده و فرهنگ پوسیدهٔ غربی را مروج سازند».

وی افزود، اینکه خشونت علیه زنان، خود سوزی و خود کشی در میان بانوان افغان ازدیاد یافته تنها قشر ذکور مقصر نیست در اکثر موارد مشاهده گردیده که بعض خانم ها از حق خود زیاده روی کرده یعنی به اصطلاح عام «پا را از گلیم خود زیاد تر دراز نموده اند».

تورن «آوری» در بخشی از صحبت های خود اعضای اناث حزب اسلامی افغانستان را خطاب نموده گفتند: «باید محتاط باشید که دشمنان اسلام تلاش می ورزند تا با کاربرد اصطلاحات موهوم و خیالی چون مساوات، حقوق زن و دموکراسی که حتا در کشور هایی که خود مدعیان دموکراسی اند، جنبهٔ عملی ندارد، شیرازهٔ استوار و مستحکم جامعهٔ افغان را از هم بگسلند».

رییس دارالانشای حزب اسلامی افغانستان در اخیر سخنان خود به بانوان حاضر در مجلس خطاب نموده گفت: «از ابن ماجه روایت است که رسول الله صلی الله و علیه وسلم فرموده اند که اگر خداوند ( ج ) بخواهد بنده یی را هلاک کند، حیا را از او می گیرد. برای شما که بانوان تحصیل یافته و متدینی هستید معلوم است که هر دین از خود اخلاقی دارد و اخلاق دین مبین اسلام شرم و حیاست. زنان با حیا و محجوب افغان که مادران قهرمان این خطهٔ باستانی اند در انجام رسالت شان که همانا تربیه و پرور
ش فرزندان صالح و با دیانت است، دریغ نورزند.»

باید متذکر شد که این نخستین نشست مقدماتی بعد از وفات مرحومه نازنین مسوول سازمان زنان حزب اسلامی افغانستان است که به خاطر سازماندهی هرچه خوبتر تشکل بانوان افغان تحت ریاست رییس دارالانشای حزب اسلامی افغانستان دایر گردیده بود.

در وهلهٔ نخست، جلسه توسط تورن غلام سخی «آوری» رییس دارالانشای حزب اسلامی افغانستان افتتاح و پیرامون اجندای جلسه صحبت گردید.

بعداً محترمه مریم «مهان» رییس سازمان زنان حزب اسلامی ولایت بدخشان پیرامون اجنداء صحبت نموده و نقش زنان را در راستای ترقی و تعالی کشور با اهمیت دانست. وی همچنان برای بهتر عملی شدن برنامه های راهبردی سازمان زنان هر گونه همکاری را وعده نمود.

سپس محترمه خانم «قریشی» در رابطه به ساختار تشکیلاتی زنان حزب اسلامی صحبت نموده و از تدویر این نشست به منظور انجام هر چه بیشتر زنان مسلمان افغانستان و جلب و جذب آنان اظهار سپاس و امتنان نمود. در اخیر این نشست به منظور هماهنگی و انسجام هر چه بیشتر امور سازمان زنان، الی تعیین رییس این نهاد، بانو نوریه بحیث سرپرست این سازمان به اکثریت آراء انتخاب گردید.

در این نشست همچنان فیصله شد تا بعد از این، جلسات هفتهٔ یکبار در دفتر مرکزی حزب اسلامی افغانستان دایر گردیده و روی مسایل کلیدی و چالشهای فرا روی زنان مسلمان افغانستان بحث و مذاکرهٔ همه جانبه صورت گیرد.

جلسه با دعای اختتامیه از طرف سرپرست مجلس پایان یافت.

## د اجرایي ریاست لومړی مرستیال...

له کبله به یې د یاد ولایت روغتون له دېرو اسانتیاو څخه برخمن شي.

همدا ډول هغه د کابل ولایت په مختلفو سیمو لکه د ټانک لوګر، ریشخور، چهارراهي قمبر، چهلستون کې له مېشتو کډوالو سره د ترسره کېدونکو مرستو په اړه او په مختلفو برخو کې د افغانانو د کارې وړتیا د لوړوالي په خاطر د خپلو برنامو څخه هم یادونه وکړه.

همدارنګه د اجرایي ریاست لومړي مرستیال انجنیر محمد خان د سلواغې په ۶مه نېټه د پاکستان له سفیر سید ابرار حسین سره په خپل کاري دفتر کې وکتل.

د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال محترم انجینیر محمدخان د پاکستان سفیر ته وویل چې، په سیمه کې روانه نا امنه وضعه سیمه ایزه ستونزه ده او د افغانستان، پاکستان، ایران او د سیمې هیوادونود خلکو شریکې همکارۍ ته اړتیا لري. انجینیر محمدخان زیاته کړه، د ملي وحدت حکومت د ولسمشر اشرف غني ترمشرۍ لاندې پوره هوډمن دی چې په سیمه کې روانه نا امنه وضعې د ختمولولپاره هر اړخیزه هڅې وکړي.

هغه زیاته کړه، په سیمه کې سوله د افغانستان د حکومت اوټولو خلکو شریکه غوښتنه ده چې موږ د منطقې د هیوادونو په خاصه توګه د پاکستان هڅې، نفوذ د سولې په راوستلو کې پوره اغیزمن بولو. د پاکستان سفیرد اجرائیه ریاست لومړي مرستیال ته ډاډ ورکړ چې هیواد یې له افغانستان سره د سولې او ټکاو په راوستلو کې پوره ژمنتیالري.

د سفیر په خبره، د پاکستان د ملکي او پوځي لوړ پوړو چارواکو راتګ کندهار او ننګرهارته د دواړو هیوادونو په حالاتو کې مثبت بدلون راوستی.

سفیر وویل: "دپاکستان حکومت او ملت افغانستان د یودوست هیواد په حیث پیژني او هیڅکله به تاسو له هیڅ چارواکي اوهیڅ میډیا وانه وروي چې افغانستان د ښمن وګڼي."

سفیر ډاډ ورکړ چې هیواد یې په افغانستان او سیمه کې د سولې د ټینګښت په موخه پر خپلوژمنوولاړ دي او هڅې به وکړي چې پر یو اویل داعتماد جوړلو فضا لا غښتلې او قوي شي او یو اویل ته به په سیمه کې دامنیت دټینګښت په موخه لاسونه ورکړو.

همداراز ښاغلي انجنیر محمدخان سره د وزیرانو شورا په مرمرینه ماڼۍ کې د کابل د امنیې قوماندان لوی پاسوال عبدالرحمن رحیمي سره لیدنه کتنه وکړه.

په دغه کتنه کې لوی پاسوال عبدالرحمن رحیمي د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال ښاغلي انجنیر محمدخان ته د کابل ښار دامنیتي حالت په اړه راپور ورکړ او ډاډ یې ورکړ چې دامنیت د ټینګښت لپاره یې داسې لارې چارې غوره کړې چې د وران کارو او ترهګرومخې یې نیولې دي.

امنیه قوماندان د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال ته ډاډ ورکړ چې کابل ښار ته ټولې هغه غزیدلې فرعي لارې یې بندې کړې دي چې په تیرو وختونو کې د وران کارو او ترهګرو لخوا ترې تګ راتګ کېده.

هغه ددې ترڅنګ وویل چې د کابل ښار د بیداره پولیسو او شریفو خلکو په همکارۍ به په دې ښار کې د امنیت داسې ډاډ منه فضا رامنځ ته کړي چې کابل ښارامنیت ټولو وګړوته ډاډمن شي.

د اجرائیه ریاست لومړي مرستیال د کابل ولایت دامنیه قوماندان لوی پاسوال عبدالرحمن رحیمي هڅې وستایلې او دده په پلانونواو وروستیو لاسته راوړنو یې خوښي ښکاره کړه.

انجینیر محمد خان په همدې اړه د کابل ښار امنیه قوماندان ته د کابل په ښار کې دلا ښه ټینګښت او ډاډمنې فضا د رامنځ ته کولو په برخه کې لازمې لارښوونې وکړې.

## په وزارت کې به د کارونو د روڼتیا...

ورته معلومه شي، چې کومو کارونو ته باید لومړیتوب ورکړل شي.

هغه زیاته کړه: "دغه راز به زه په خپل وزارت کې د کارونو د شفافیت لپاره یوه څانګړې اداره رامنځته کړم، څو د وزارت د ټولو کارکوونکو کارونه او دندې په سمه توګه ترسره شي."

د کلیو د پراختیا وزارت ته کاندید وزیر وایې چې د وزارت په ټولو برخو او ریاستونو کې به هماهنګي رامنځته کوي او هېڅوک به د یوبل په کار کې لاسوهنه نه کوي.

درانی وایي چې د وزارت په چارو کې به د خلکو، ملي شورا او ولایتي شوراګانو د نظارت کچه لوړه کړي، تر څو په ټولو کارونو کې د روڼتیا کچه لوړه شي.

ده زیاته کړه، هغه پروژې چې اقتصادي او ټولنیز تداوم نه لري، د هغو پر ځای به اوږد مهاله داسې پروژې رامنځته کړي، چې اقتصادي او ټولنیزې ګټې ولري.

د هغه په وینا، له دغه کار سره به پروژې په خپله د سیمې د خلکو لپاره پر خپل ځان د بسیا کېدو یوه وسیله وبلل شي.

دی وایي چې د پروژو د پلي کولو لپاره به معیارونه رامنځته کړي او هیڅ یوه پروژه به له خپل تاکلي معیار پرته پلي نه شي.

ددې پوښتنې په ځواب کې چې له ولسي جرګې څخه به د باور رایې په ترلاسه کولو کې بریالی شي، دراني وویل چې له تېرو څو کلونو راهیسې یې په دولت کې په بېلابېلو څوکیو دندې ترسره کړې او کافي تجربه لري. هغه هیله څرګنده کړه، چې زده کړو او کاري تجربې ته په کتو سره به د ولسي جرګې غړي ورته د باور رایه ورکړي.

د خپلې شتمنۍ په اړه د یوې بلې پوښتنې په ځواب کې د کلیو د پراختیا کاندید وزیر وویل چې دی په هیواد کې دننه او له هیواده بهر پانګه لري، خو اوس ورته ټوله نه ده معلومه. نوموړي ژمنه وکړه، چې په نږدې راتلونکې کې به خپله شتمني د رسنیو له لارې په ډاګه کړي.

د کلیو د پراختیا وزارت ته کاندید وزیر انجنیر نصیر احمد د اروابناد شاه محمد زوی او د لوګر ولایت د محمد اغې ولسوالی اوسېدونکی دی. هغه وایي چې لومړنی زده کړې یې د محمداغې په منځنې ښوونځي کې ترسره کړي او د بریښنا په برخه کې لوړې زده کړې لري.

دراني زیاتوي چې په ۱۳۵۴ لمریز کال کې د کابل د انجنیرۍ پوهنځي د میخانیک انجنیرۍ له څانګې فارغ شوی دی. دی وایي چې تر فراغت وروسته یې د کانونو وزارت په بېلابېلو برخو کې دندې ترسره کړې دي، دغه راز یې په دې موده کې یوشمېر هیوادونو ته سفرونه کړي او هلته یې په ورکشاپونو او سیمینارونو کې برخه اخیستې ده.

نوموړي وویل چې په ۱۳۶۰ لمریز کال کې یې په فلیپین کې د وړو کانونو د مدیریت او انکشاف په برخه کې کورسونه ویلي، سندونه او ستاینلیکونه یې ترې ترلاسه کړي دي.

هغه زیاتوي چې په ۱۳۶۴ لمریز کال کې پاکستان ته کډوال شو او هلته یې هم د تخنیک په بېلابېلو برخو کې دندې ترسره کړې دي.

انجنیر نصیر وویل چې په ۱۹۸۸ زېږدیز کال کې امریکا ته لاړ او په نبراسکا پوهنتون کې یې د یوه کال لپاره د انکشاف او بیارغونې په برخه کې د مافوق لیسانس سند ترلاسه کړ.

هغه زیاتوي چې په ۲۰۰۹زېږدیز کال کې له خپلې کورنۍ سره بېرته هیواد ته راستون او د کانونو وزارت د اقتصادي سلاکار په توګه وټاکل شو، بیا په همدې وزارت کې د مرستیال په توګه وګومارل شو، چې تر اوسه یې په همدې څوکۍ دنده ترسره کوله.

دی وایي چې په کانونو وزارت کې یې د کار پر مهال ډېرې لاسته راوړنې درلودې، په ډېرو کانونو کې یې ناقانونه استخراج قانوني کړ، په ۱۳۸۹ لمریز کال کې یې د بامیانو ولایت د ډېرو سکرو ۱۹۴ کانونه چې خپلسرې کیندنې په کې کېدې او سکاره یې قاچاق کېدل، مخه یې ونیوله.

د نوموړي په وینا، د کود برق فابریکه چې سلګونه میلیونه افغانۍ د افغان ګاز او د ډېرو سکرو د تصدۍ شرکتونو پور وړې او غیر فعاله وه، بېرته فعاله او ټول پورونه یې خلاص کړل. دی وایي چې دعبدالهادي ارغندیوال په مشرۍ د حزب اسلامي غړی دی.

هغه په ۱۳۵۹ لمریز کال کې واده کړی، شپږ اولادونه لري، چې څلور یې زامن او دوه یې لوڼې دي.